**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲۲** (از ۲۳ الی ۳۰ جوزا ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ..................... ۲

**داعش در افغانستان؛ آیا بازی وارد مرحلهٔ جدید شده است؟**

- ابهام‌ها در مورد گروه داعش در افغانستان ..................... ۴
- کشتار طالبان به دست داعش ..................... ۴
- نامه به ابوبکر بغدادی ..................... ۵
- نتیجه گیری ..................... ٦

**د ولسي جرګې ټاکنې او د مشروعیت بحران**

- اساسي قانون کله نقض شو؟ ..................... ۸
- د قانوني تشې غځېدا ..................... ۹
- د ولسي جرګې د ټاکنو د ځنډ لاملونه ..................... ۱۰
- د د ولسي جرګې د ټاکنو پر وړاندې خنډونه ..................... ۱۰
- درېګوني قوې او د نامشروعیت ننګونه ..................... ۱۱
- پایلې: ..................... ۱۲

## مقدمه

کابو یو کال مخکې داعش ډلې په منځني ختیځ کې د "اسلامي خلافت" اعلان وکړ. له دغه اعلان څو میاشتې وروسته، په افغانستان کې هم د دغې ډلې د شتون په تړاو تاوده خبرونه خپاره شول او د عبدالرؤوف خادم په نامه د طالبانو یو پخوانی قوماندان په سیمه کې د داعش نایب وټاکل شو؛ خو دغه قوماندان بیا ډېر ژر د امریکایي پیلوټه الوتکو د برید ښکار شو.

پر دې سربېره، له څو میاشتو راهیسې د هېواد په ختیځ ننگرهار کې د طالبانو او یو شمېر داسې وسله‌والو ترمنځ هم نښتې شوې دي، چې ځانونه په داعش ډله پورې تړلي بولي. طالبانو تېره اوونۍ د داعش ډلې د مشر ابوبکر البغدادي په نامه استول شوی، یو لیک خپور کړ او له بغدادي یې غوښتنه پکې کړې وه، چې په افغانستان کې موازي صف جوړ نه کړي. خو آیا دغه جگړه‌ماري رښتیا هم په داعش ډلې پورې اړوند دي؟ آیا په ننگرهار روانه جگړه د داعش په امر کېږي که نور لاملونه هم لري؟ او ترټولو مهمه دا چې ابوبکر البغدادي ته د طالبانو لیک په څه معنا دی او د داعش ډلې ځواب به دغه لیک ته څه وي؟ د دې اوونۍ په تحلیل کې په دې اړه مفصل بحث لولئ.

د دې ترڅنگ، په هېواد کې دننه قانوني تشه هغه ستونزه ده چې تېره اوونۍ د خبرونو سرټکی و. د افغانستان د ولسي جرگې قانوني موده په همدې ورځو کې (د سرطان میاشتې په لومړۍ نېټه) پای ته رسېږي. دا په داسې حال کې دي، چې تر دې دمه پارلماني ټاکنو لپاره لومړني گامونه هم نه دي پورته شوي. ولسمشر غواړي د سترې محکمې له لارې ولسي جرگې ته مشروعیت وروبښي؛ خو ستره محکمه هم د سرپرست له لوري اداره کېږي. د ولسي جرگې ځینې غړي ان د ولسمشر او د ملي یووالي حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. پوښتنه دا ده، چې د ولسي جرگې د ټاکنو او د دې ستونزې د هوارې په لاره کې کوم خنډونه موجود دي او په ټوله کې د ستونزې اصلي ریښه چېرته ده؟

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په دې گڼه کې، په پورتنیو موضوعاتو د مرکز د خپرنیزې څانگې شننې او څېړنې لولئ.

# داعش در افغانستان؛ آیا بازی وارد مرحلهٔ جدید شده است؟




از مدت‌ها قبل سروصدای حضور داعش در بعضی از نقاط افغانستان شنیده می‌شد، اما زمانیکه مشخص شد یکی از فرماندهان طالبان به نام عبدالرؤوف خادم که عضو شورای نظامی آنان نیز بود، به داعش پیوسته است، زنگ خطر برای طالبان نیز به صدا درآمد. در آن زمان برخورد کوتاهی میان طالبان و خادم در ولسوالی کجکی هلمند نیز به میان آمد، اما به زودی کار به مذاکره کشید و هنوز این مذاکره به جایی نرسیده بود که عبدالرؤوف خادم در نتیجهٔ حملهٔ یک طیارهٔ بی‌سرنشین امریکایی در ولسوالی کجکی کشته شد، بدون اینکه فرصتی برای تدارک نیرو به دست آورده باشد.

کشته شدن عبدالرؤوف خادم موجب خشم رهبری داعش گردید و به نظر می‌رسد که کسانی اطلاعاتی به رهبری داعش رسانیدند که گویا طالبان که از اعلام جانبداری خادم از داعش ناراض بودند و وی را چالشی فراراه خود می‌دانستند، در کشتن وی دست داشته اند.

از آن ببعد، گروهی در شرق افغانستان ظهور کرده که خود را داعش می‌خواند و اعلام داشته که فقط قصد جنگ با طالبان را دارد. آن‌ها در بعضی از ولسوالی‌های ولایت ننگرهار به جنگ با طالبان پرداخته و طالبان نیز در برابر آن‌ها دست به عقب نشینی زده‌اند. در رسانه‌های اجتماعی نیز تصاویری از سربریدن تعدادی از اسرای طالبان به دست این گروه، به نشر رسیده است.

## ابهام‌ها در مورد گروه داعش در افغانستان

بعضی از افراد نزدیک به طالبان، گروهی را که در شرق افغانستان با آن‌ها درگیر جنگ است، داعش نمی‌دانند بلکه به این باور اند که بربنیاد تفاهم میان کابل و اسلام‌آباد، پاکستان تعدادی از طالبان پاکستانی را که با داعش بیعت کرده‌اند و مجاهدین افغان را که با طالبان مخالف اند همراه با ملیشه‌های خود مسلح ساخته و به این مناطق اعزام نموده است.

گزارشاتی نیز وجود دارد که در میان افراد گروه منسوب به داعش، افراد وابسته به حزب اسلامی افغانستان نیز شامل اند و حتی گفته می‌شود که فرماندهی بخشی از عملیات این گروه در ولسوالی بتی‌کوت را، شخصی به نام بختیار به عهده دارد که از افراد حکمتیار بوده و مدتی را هم در گوانتانامو سپری کرده است.

اما گروه اصلی داعش در سوریه، تاکنون به صورت مشخص در مورد تحرکات خود در افغانستان چیزی نگفته اند و فقط عبدالرحیم مسلم دوست که خود را از اعضای شورای علمای داعش در افغانستان می‌خواند، در مورد اظهار نظر کرده و گفته است که طالبان دست نشانده‌های آی اس آی اند و داعش با آن‌ها درگیر جنگ است.

گروه منسوب به داعش در شرق افغانستان بسیار منظم اند. کمپ‌های آنان به شکل نظامی برپا می‌شود که در آن کلنیک صحی و آشپزخانهٔ سیار هم وجود دارد. آن‌ها تلاش دارند تا با مردم به خوبی رفتار کنند و به مردم گفته اند که آن‌ها کاری به کارمندان دولتی و یا سربازانی که بدون یونیفورم به خانه‌های خود می‌آیند، ندارند و فقط به دنبال طالبان اند.

## کشتار طالبان به دست داعش

بعد از حملهٔ گروه منسوب به داعش به مواضع طالبان در ولایت ننگرهار، آن‌ها موفق شدند تا در چندین ولسوالی این ولایت، طالبان را عقب بزنند. کلیپ‌های تصویری از سربریدن ده تن از جنگجویان طالب به دست آنان در شبکه‌های اجتماعی به نشر رسید.

اما کار این گروه فقط به جنگ با طالبان در داخل افغانستان محدود نیست، بلکه در تلاش اند تا فرماندهان و افراد مهم طالبان را در داخل پاکستان نیز هدف قرار دهند. ترور مولوی میراحمد گل هاشمی مسؤول جهادی ولایت ننگرهار طالبان در پیشاور، به دست افراد منسوب به داعش بوده است.

طالبان کشته شدن مولوی میراحمد گل هاشمی را ضایعهٔ بزرگ خواندند. در سایت رسمی طالبان در مورد وی آمده است که "دشمنان اسلام" با کشتن چنین شخصیت‌ها هرگز به اهداف شوم شان یعنی ضعیف ساختن صف مستحکم امارت اسلامی نخواهند رسید.

## نامه به ابوبکر بغدادی

می‌توان گفت که طالبان در طول سیزده سال گذشته هیچ‌گاه چنین زیر فشار نبوده‌اند. هرچند آنان تلاش کردند تا این مشکلات را تحت شعاع فعالیت‌های دیپلوماتیک قرار داده و بی‌اهمیت جلوه دهند، اما فشارهای دیگری بر رهبری طالبان این بار از جانب فرماندهان آنان وارد آمد که می‌خواستند رهبری آنان موقف روشنی در قبال این گروه جدید (داعش) اتخاذ نماید. مانند هر کار مهم دیگر که نیازمند تائید رهبر طالبان است، تائید این نامه نیز مدتی به طول انجامید تا سرانجام با تائید ملا محمد عمر و به امضای ملااختر محمد منصور رسید. تاریخ امضای نامه 16 جون 2015 می‌باشد.

در بخشی از این نامه از شخصیت‌های جهادی چون شهید عبدالله عزام، اسامه بن لادن، ابومصعب الزرقاوی و خطاب به عنوان شاگردان مدرسهٔ جهادی افغانستان نام برده شده است. نام بردن این افراد در نامه به ابوبکر بغدادی اشاره به این مسئله دارد که استادان شما شاگردان مدرسهٔ ما اند و ما در این میدان بر شما فضل تقدم داریم.

در این نامه، به جهاد مردم مسلمان افغان علیه تجاوز شوروی اشاره شده که چگونه در اثر تفرقه در صف مجاهدین، ثمرهٔ خون یک و نیم ملیون شهید این سرزمین ضایع گردید و امیدهایی که امت مسلمه به این جهاد بسته بود همه نقش بر آب شد. در نامه اشاره شده که طالبان با تعمیل دستورهای قرآن و تجربهٔ جهاد گذشته، تعدد در صف جهاد را نه به نفع مسلمانان و نه هم به نفع جهاد می‌داند. در تحت قیادت واحد، وحدت صف برقرار مانده و جلو فتنه‌های ناشی از تفرقه گرفته می‌شود. به همین دلیل امارت اسلامی در افغانستان، فعالیت جهادی را تنها به قیادت امارت مشروط می‌داند.

در نامه اشاره شده که ملامحمد عمر در نتیجهٔ تصمیم و بیعت شورای اهل حل و عقد متشکل از 1500 نفر از علما، به قیادت امارت برگزیده شده و شخصیت‌های بزرگ فقهی جهان اسلام چون الشیخ حمود بن عقلاء الشعیبی و رهبران جهادی مشهوری چون اسامه بن لادن این امارت را تائید و با قاید آن بیعت کردند.

در نامه آمده است که در طول سال‌های گذشته دشمنان تلاش کردند تا صف واحد طالبان را متلاشی سازند، اما موفق نشدند. در چنین شرایط حساس، یاران شما نباید دست به کاری بزنند که صف واحد جهاد از هم پراکنده شده

و امیدهای دشمنان تحقق یابد. در نامه تاکید شده که از نظر امارت اسلامی، ایجاد گروه‌های موازی، مخالف جهاد، مجاهدین و مصالح اسلامی است. اگر در اینجا از طرف کسانی که خود را به شما منسوب می‌سازند، برای امارت اسلامی مشکلی به میان آید، تمام مسلمانان جهان از شما ناراض خواهند شد.

در نامه از ابوبکر بغدادی خواسته شده که تحت تاثیر مشورت‌های افراد مغرض قرار نگیرد و از فاصلۀ دور در مورد مسایل افغانستان قضاوت نکند.

## نتیجه گیری

نامه به ابوبکر بغدادی اتمام حجت صریح از جانب طالبان به داعش و حاوی این پیام روشن است که ما اجازۀ تشکیل گروه‌های موازی حتی به منظور جنگ با امریکا را نیز در افغانستان نمی‌دهیم. هر گروهی که می‌خواهد جهاد نماید، باید زیر پرچم امارت قرار گیرد و با وجود امارت اسلامی، هیچ نیازی به حضور گروه‌های دیگر در افغانستان نیست. این نامه در حقیقت داعش را از مداخله در افغانستان برحذر می‌دارد.

اشاره به انتخاب ملامحمد عمر به عنوان امیرالمؤمنین توسط شورای حل و عقد متشکل از 1500 نفر شامل علما و مجاهدین عرب می‌تواند این برداشت را به میان آورد که از نظر طالبان، زعامت ملامحمد عمر از مشروعیت برخوردار است اما ابوبکر بغدادی خلیفۀ خود ساخته است که در مورد انتخابش اجماع مسلمانان صورت نگرفته است.

اتمام حجت طالبان در این نامه می‌تواند دو نتیجه داشته باشد؛ یا البغدادی کسانی را که خود را در افغانستان منسوب به داعش می‌دانند تائید کند که در آن صورت این کار به معنای اعلام جنگ با طالبان خواهد بود. زیرا وی هرگز نمی‌خواهد افرادش تحت قیادت شخص دیگری جهاد کنند و مشروعیتش به عنوان خلیفۀ مسلمین از میان برود. در این صورت طالبان این فرصت را به دست می‌آورند تا از حمایت کشورهای نگران از نفوذ داعش در منطقه، برخوردار گردند و جنگ آنان با داعش شدت خواهد گرفت.

امکان دوم این است که البغدادی از گروه منسوب به داعش در افغانستان ابراز برائت نماید؛ در این صورت مشخص می‌شود که این گروه ساختۀ سازمان‌های استخباراتی است و دیگر شانسی در افغانستان برای جلب و جذب مردم نخواهد داشت.
پس می‌توان گفت که نوشتن نامه به البغدادی توسط رهبری طالبان هرچند با تاخیر صورت گرفته، اما اقدام زیرکانه‌ای از جانب آنان به شمار می‌آید که می‌تواند قضیۀ حضور داعش در افغانستان را از ابهام بیرون آورد.

# د ولسي جرگې ټاکنې او د مشروعیت بحران



د افغانستان د ولسي جرگې کاري دوره د اساسي قانون د ۸۳مې مادې د دویم بند له مخې د چنگاښ پر لومړۍ نېټه پوره کېږي. د اساسي قانون دغه ماده وایي: «د ولسي جرگې د کار دوره د پنځم کال د چنگاښ په لومړۍ نېټه، د انتخاباتو د نتیجو له اعلان څخه وروسته پای ته‌رسېږي او نوې شورا په کار پیل کوي»[1].

د اساسي قانون له دې صریح حکم سره-سره، تراوسه حکومت د ټاکنو لپاره لومړنۍ تیاری هم نه لري. تېر کال له ټاکنیز بُن‌بست وروسته د اوسني حکومت د دوو شریکو اړخونو ترمنځ یوه پرېکړه دا هم شوې وه، چې حکومت به د کابینې له تشکیل وروسته د ټاکنیز جوړښت د اصلاحاتو لپاره هڅې کوي.

د ملي یووالي حکومت د تشکیل تفاهمنامه وایي: "د اطمینان د ترلاسه کولو په موخه چې د افغانستان په راتلونکي کې ټاکنې له بشپړ اعتماده برخمنې وي د افغانستان ټاکنیز سیستم (قوانین او بنسټونه) بنسټیزو بدلونونو ته اړتیا لري". وروسته وایي: "ولسمشر به د سیاسي موافقې لومړۍ مادې ته په پام سره د ملي یووالي

[1] د افغانستان اساسي قانون، درې اتیایمه ماده، دویم بند.

حکومت له تشکیل سره جوخت، د یوه فرمان له لارې د افغانستان د ټاکنیز سیستم د اصلاح لپاره یو ځانګړی کمېسیون ګوماري"[2].

د ملي یووالي په حکومت کې ټاکنیز اصلاحات ځکه وځنډېدل چې کابینه ډېره وروسته تشکیل شوه او لا هم د دفاع وزیر له پارلمان څخه د باور رایه نه ده ترلاسه کړې. خو بیا هم له اوږدې مودې وروسته د ولسمشر له خوا شکریه بارکزۍ د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمېسیون د مشرې په توګه وټاکل شوه؛ مګر د ولسمشر غني له دې فرمان سره اجراییه ریاست مخالفت وکړ.

اوس، د ولسي جرګې زیات شمېر غړي د دغو ځنډونو له امله حکومت ګرم بولي. دوی هڅه کوي چې د اساسي قانون ۸۳مه ماده داسې تفسیر کړي، چې هلته له "انتخاباتو وروسته" جمله راغلې، نو دوی تر نورو ټاکنو پورې خپل کار قانوني بولي!

## اساسي قانون کله نقض شو؟

د "ملي یووالي" حکومتونه په هغو هېوادونو کې رامنځته کېږي، چې سیاسي اړخونو یې د یو او بل پر ضد کلونه جګړې کړې وي، اساسي قانون او یو ټولمنلی حکومتي جوړښت ځنډېدلی وي او د بې‌باورۍ فضا حاکمه وي. د دې لپاره چې یو ډول باور جوړونه وشي، پر یوه داسې حکومت سلا کېږي چې ټول په کې ځانونه وویني. د ملي یووالي حکومت بیا د نظام بنسټونه او اساسي قانون تشکیلوي. مګر په افغانستان کې د "ملي یووالي" حکومت بې له اړتیا تشکیل شو. دلته اوس د ملي یووالي حکومت تشکیل، د اساسي قانون لومړنی سیستماتیک نقض و؛ ځکه اساسي قانون د داسې یوه حکومت وړاندوینه نه ده کړې.

د ملي یووالي حکومت د تشکیل پر مهال د قانون موادو ته چا پام ونه کړ. هغه وخت د ټولو هڅه دا وه چې ټاکنیز کړکېچ له منځه یوسي. یو اړخ تیار نه و چې د ټاکنو وروستۍ پایلې ومني. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کېري دوو سفرونو کې د کنګل ماتولو ته لومړیتوب ورکول کېده، قانون هېر شوی و. امریکایانو کله هم د افغانستان د اساسي قانون درناوی نه دی کړی. د ۲۰۰۹م کالو ټاکنو د بُن‌بست پر مهال هم ویل کېږي، چې

[2] د ولسمشرۍ د دوو نوماندانو (اشرف غني او عبدالله عبدالله) ترمنځ د ملي یووالي حکومت له تشکیل وړاندې، د شوې توافقنامې له متن څخه.

د وخت ولسمشر حامد کرزي ته هم د اساسي قانون خلاف وړاندیز شوی و؛ چې کرزي د اساسي قانون د خنډ خبره کړې وه، امریکایي لوري ویلي و چې "اساسي قانون ته اور پورې کړئ".

هېڅوک د ملي یووالي د حکومت د قانونیت یا مشروعیت ننګه نه شي کولای. د دې حکومت فراقانونيتوب ډېر ښکاره دی. هغه وخت د بُن‌بست ماتولو لپاره ان د ټاکنو کمېسیون د وروستیو پایلو د اعلان پر مهال هم ولسمشر "ګټونکی" او اوسنی اجراییه رییس "بایلونکی" ونه باله. د ټاکنو دغه ډول پایلو اعلان هم لومړی ځل و، چې وشو.

## د قانوني تشې غځېدا

د افغانستان د اوسني حکومت په سر کې له قانوني بریدونو او پولو پراخ پیل شو. هغه مهال داسې ګومان کېده چې د ټاکنیز کړکېچ ماتول په خپله یوه ستره بریا ده؛ مګر د دغه حکومت تشکیل چې قانون نه و تصریح کړی، وروسته بیا نورې ستونزې راولاړې کړې، چې هغه وخت ورته پام ونه شو. مثلاً د اجراییه ریاست ځوکۍ به خپل مشروعیت له چا اخلي، بودیجه به یې څنګه ځانګړې کېږي. تېره میاشت یو کړکېچ هم په ولسي جرګه کې د اجراییه ریاست مقام د بودیجې و.

که چېرته د ملي یووالي حکومت کې د شریکو دوو اړخونو ترمنځ ژور اختلافونه نه وای، بیا هم کېدای شوای چې کابینه پر خپل وخت تشکیل شوې وای، ورپسې د ټاکنیزو اصلاحاتو ځانګړی کمېسیون او ورپسې د لویې جرګې او اساسي قانون تعدیل تابیا نیول شوې وای. په دغه صورت کې به د حکومت د غیرقانونيتوب ستونزه لنډمهاله وه. خو په حکومت کې د دخیلو لوریو ترمنځ د واک پر سر کشمکش په خپله چارې ډېرې ځنډنۍ کړې دي. د چارو له ځنډېدو سره حکومت له قانوني‌کېدو نور هم وروسته کېږي. که په حکومت کې شریکو اړخونو چټک ګامونه پورته کړي وای، نن به د ولسي جرګې دوره داسې مهال نه وه ختمه، چې د ټاکنو لپاره لومړني تیاری هم نه دي نیول شوي.

## د ولسي جرگې د ټاکنو د ځنډ لاملونه

دا چې دا ځل د ولسي جرگې ټاکنې ولې پر وخت ونه شوې، عمده لاملونه یې په لاندې ډول دي:

- د ۱۳۹۳ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د درغلیو له کبله اختلافات رامنځ ته شول، چې له کبله یې پایلې هم تر شپږو میاشتو پورې وځنډېدې.
- د ۱۳۹۳ کال ولسمشریزه ټاکنو وروسته، د ملي وحدت حکومت ډېرى پاملرنه د کابینې جوړولو پر لور شوه، چې ان تر اوسه یې بشپړې کابینې او د سترې محکمې رئیس له ولسي جرگې څخه د تائید رایه نه ده اخیستې. په مجموع کې دغو دوو لاملونو د حکومت ډېر وخت ضایع کړ او د ولسي جرگې د ټاکنو په اړه یې گامونه پورته نه کړای شول.

## د ولسي جرگې د ټاکنو پر وړاندې خنډونه

لاندې هغه عوامل دي، چې د ولسي جرگې د ټاکنو پر وړاندې خنډونه بلل کېږي:

- **د فنډ نه شتون:** خپله د ټاکنو خپلواک کمېسون مشر احمد یوسف نورستاني وایي، چې د فنډ نه شتون له کبله به د ولسي جرگې ټاکنې تر یوه کاله پورې وځنډیږي. ځکه د ولسي جرگې ځانگړې شوې پیسې ټولې د ولسمشرۍ له دویم پړاو ټاکنو وروسته د تفتیش پر بهیر لگول شوې او دا مهال نړیوال هم له کمېسون سره د مرستو علاقمندي نه لري. د نوموړي په وینا، د "UNDP" له خوا د مرستو تر بندېدو وروسته شاوخوا ۹۶۰ مسلکي کسانو دندې پرې اېښې دي او که د ټاکنو لپاره مالي سرچینې برابرې شي، له دغو کسانو به یو شمېر بېرته جذب شي.
- **امنیت:** په هېواد کې روانه پراخېدونکې ناامني هغه بل ستر خنډ دی، چې د ولسي جرگې د ټاکنو پر وړاندې عملاً یوه ستره ستونزه بلل کېدای شي. ښایي د ناامنیو له کبله دا ځل ټاکنې په څو مرحلو کې ترسره شي، ترڅو حکومت او امنیتي ځواکونه خپله ډېرى پاملرنه پر یوې محدودې سیمې وکړي.
- **په ټاکنیز نظام کې اصلاحات:** د ۱۳۹۳ کال له لانجمنو ټاکنو وروسته د ملي وحدت حکومت پرېکړه وکړه، چې په ټاکنیز نظام کې به اصلاحات راولي. په دې تړاو شکریه بارکزۍ یو ځل د دغه کمیسون مشره وټاکل شوه؛ خو بیا د ډاکټر عبدالله له خوا د اختلافاتو له کبله بېرته لرې کړای شوه. تر اوسه

پورې د دغه کمیسون مشر نه دی ټاکل شوی، ترڅو په ټاکنیز نظام کې د اصلاحاتو په اړه پر یوې طرحې کار وکړای شي او له هغه وروسته د ولسي جرګې ټاکنې په شفافه توګه ترسره شي.

## درې ګونې قوې او د نامشروعیت ننګونه

له بده مرغه د افغانستان اوسنی حکومت په زنځیري ډول له قانوني پولو څخه اوړي. د چنګاښ له پیل سره سم به د ملي یووالي حکومت په درې ګونو قوو کې هېڅ داسې ارګان نه وي، چې بشپړ قانوني ملاتړ به ولري. تر ټولو وړاندې د حکومت اجراییه قوه -اجراییه ریاست هدف نه دی- په غیرقانوني ډول تشکیله شوه. د حکومت قضایي ارګان لا له وړاندې د سرپرست له لوري اداره کېږي. یوازېنۍ قوه چې د اساسي قانون له موادو سره سمه پرمخ تله، ولسي جرګه وه. د قانون هېڅ ډول تفسیر نه شي کولای، د چنګاښ له لومړۍ نېټې وروسته اوسنۍ ولسي جرګه قانوني وګڼي.

کله چې د حکومت اجراییه ارګان غیرقانوني تشکیلېږي، قضاییه ارګان د قانون پر خلاف یوه اوږده موده د سرپرست له لوري اداره کېږي، ولسي جرګه خپل مشروعیت له چا واخلي؟! ستره محکمه به د کوم مشروعیت له مخې د اساسي قانون د تفسیر واک ولري؟

تېره اونۍ په ولسي جرګه کې د بلخ استازي په صراحت سره وویل، چې ولسمشر هم "مشروعیت نه لري او ستره محکمه هم!" د ولسي جرګې غړي هم غواړي خپل کار ته داسې دوام ورکړي لکه اجرائیه او قضائیه ارګانونه چې روان دي.

له دې سره په افغانستان کې د قانون ماتونې یو سیستماتیک بهیر پیل شو. حکومت چې غیرقانوني رامنځ ته شو، نو د حکومت وروستۍ کړنې هم د قانون پلې کولو ته اړ نه وې، ځکه دا چې د حکومت جوړښت د سیاسي جوړجاړي په اساس شوی و، نو په هره چاره کې تر قانونه د سیاسي جوړجاړي خبره لوړه وه. د قانون ماتونې دا بهیر همداسې پراخېږي او د چنګاښ له لومړۍ نېټې سره ولسي جرګه هم، چې یوازنی قانوني ارګان و، له قانوني کړکېچ سره مخ کېږي. په نژدې راتلونکي کې هم ممکنه نه ده، چې ټاکنې دې ترسره شي او د نظام ګرد بنسټونه په قانوني چوکاټ کې داخل کړي. د ټاکنو د ترسره کېدو پر لار ډېر خنډونه پراته دي، که یې د ملي یووالي حکومت دواړه اړخونه د مسوولیت په احساسولو سره پر وخت د حل کولو هڅې ونه کړې، د دې قانوني بحران له دوام سره به ورو ورو د نظام مشروعیت تر سوالیې لاندې شي.

## پايلې:

سره له دې چې د پخواني حکومت پر مهال هم په نظام کې ډېرې ستونزې وې، خو بیا هم د قانوني بحران خبره تر ډېره مطرح نه وه. تر ډېره بریده ټاکنې پر خپل وخت ترسره شوې او د ولس د استازولۍ امتیاز وکولای شول چې نظام ته مشروعیت وروبښي. مګر اوسنۍ د ملي یووالي حکومت کې پر کمکارۍ او پڅو کړنو سربېره، د قانوني بحران او د نظام د مشروعیت خبره ډېره ننګوونکې ده. په تېره بیا کله چې د حکومت درې ګوني قوې یو بل پر نامشروعیت او ناقانونۍ تورن کړي!

پر هېواد واکمن قانوني بحران څو پايلې لرلای شي:

- ولس پر نظام بېباوره کېږي؛ کله چې له حکومت سره د اساسي قانون ملاتړ نه وي، ولس څرنګه پر خپل مشروعیت قانع کولای شي؛
- له وسلهوالو مخالفینو سره تل د خبرو اترو د پیل په صورت کې د اساسي قانون منل د یوه شرط په توګه مطرح وو، اوس چې حکومت سر تر پایه له قانونه بهر رامنځ ته کېږي، څوک به وسلهوال مخالفین د اساسي قانون منلو ته راوبولي؛
- د افغانستان پر قانوني سکتور شوې پانګونې او تېرې هڅې د اوسنۍ نظام له کړنو سره په اوبو لاهو کېږي؛
- ولس به لا نور پر ټاکنو باور له لاسه ورکړي؛ ځکه په دومره لوړ لګښت د ټاکنو ترسره کول چې نظام ته مشروعیت ورونه بښي، ولس به بلې کومې وسیلې پورې هیلې وتړي؛
- په ټوله کې، له بُن غونډې راوروسته بهیر او د ډیموکراسۍ پر پروسې ولسي بېباوري زیاتېږي؛
- او په پای کې ټول هغه څه چې په تېرو څوارلسو کلونو کې د لاسته‌راوړنو په توګه مطرح وو، ثابتېږي چې په حقیقت کې ثابتې لاسته‌راوړنې نه وې.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com – www.csrskabul.net

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)